پوهندوی آصف بهاند

# جانداد جهاني څنګه پښتوژبه جهاني کوي؟

## لومړی احمدولي اڅکزی او اوس يې بلملګري جانداد جهاني

### داسې پروژه چې ټول کارکونکي يې له کاره راضي دي

(د مورنۍژبې نړيوالهورځ ـ ۲۰۲۶ ام کال)



**«مثبت تغير د ټولنې له بطن څخه پيليږي، د نړيوالو قدرتونو، د دولتونو او موسساتو په تمه مه کښېنئ ستونزې تشخيص کړئ او د يو ښه سبا لپاره لاس په کار شئ. دا د يو کس مسووليت نهدی د هر فرد فرد دی، او هر کس کولی شي د يو تغير رهبري وکړي.»** (جانداد جهاني)

د نوې تکنالوژۍ د پرمختګ په زمانه کې خدای پر پښتنو او پښتو ژبې باندې مهربانه شو، ځينې داسې فعالې او علمي څېرې يې پر دوی باندې ولورولې چې د خپلې ژبې له پاره يې په علمي او عملي ډول کار پيل کړ. د داسې فعالو خلکو په ډله کې ترټولو لومړی د احمدولي اڅکزي نوم يو ياد نوم دی چې د علمي او فرهنګي فعاليت ډېره برخه يې د پښتو ژبې د ژوندي پاتې کېدو او علمي کېدو له پاره وقف شوی ده.

اوس دا دی د احمدولي اڅکزي په څېر یو بل نوښتګر ځوان په ډېرېانرژۍ او ځواک سره میدان ته رادانګلي دي. جانداد جهاني یادوم چې هرګام یې په نوښت پیل کېږي او ترټولو لوی او بریالی نوښت یې دا دی چې دی توانېدلی چې د پښتو ژبې د ژوندي ساتلو له پاره د وطن ګڼشمېر ځوانان هم د خپل پلان برخه وګرځوي او په ګروپي ډول یې کار راپیل کړی دی او داسې ګڼدی او بریالی روان دی لکه نوې تکنالوژي چې ګړندۍ او بریالۍ روانه ده.

په دې وروستیو ورځو کې ښاغلي عبدالغفور لېوال په فرهنګي سپړنه پروګرام کې «په ډیجیټال نړۍ کې د پښتوژبې دریځ» ترسرلیک لاندې دوه تنه دانشمند مېلمانه راغوښتي وو، ښاغلی جانداد جهاني او اغاملوک سهار. دوی پر دې خبرې وکړې چې څنګه پښتو ژبه ډیجیټال شي او څنګه پښتوژبه د نوې تکنالوژۍ نړۍ ته ورننوزي. په پیل کې ښاغلي لېوال وویل چې:

«... د څو کسه روښانه او خدمتګارو پښتنو او د پخوانیو افغان مليحکومتونو د نیم و نیمکله ملاتړ له برکته دا ژبه د اړیکتیایي تکنالوژۍ په دونیا کې حضور لري او برېښنایي هوښ یې لوستلای، ویلای او لیکلای شي.

دا وخت د معلوماتي تکنالوژۍ یو شمېر پښتنو متخصصانو وکړای شول چې له موزلا کامن وایس سره د کار پرمټ دې ته لار پرانیزي چې په ډیجیټل نړۍ کې رغېدلې زیرکتیا د پښتو ژبې د غږونه زېرمه هم وکارولی شي او په دې توګه غږ په متن، متن په غږ بدل کړي. د دې برخې یو کارپوه وایي که په ساده ټکو کې یې ووایم: کامن وایس د غږونو بانک دی، داسې چې لکه روغتون کې تاسو د وینې بانک ته وینه ورکوئ او هغه بیا د نورو ناروغانو د ژغورلو لهپاره کارېږي. په همدې شکل دلته هرڅوک د هرې ژبې او لهجې ویونکی یې غږونه ورکوي او له دې غږونو بیا هره کمپنۍ، پوهنتونونه، څېړنیز مرکزونه او نور د غږ اړوند موډلونو، سافټویرونو او د پلټونکي انجن په جوړولو کې ګټه ترې اخیستلای شي.

که په دې بهیر کې کار همداسې پرمخ ولاړشي، ژر به زموږ کنفرانسونه، خبرې او ویډیو ګاني په اتومات شکل د نړۍ نورو ژبو ته وروژباړل شي او د پښتو ویونکو او نړیوالو ترمنځ به پوهاوي راپوهاوي پروړاندې خنډ ولاړ دېوالونه راونړېږي.»

جانداد جهاني او اغاملوک سهار د ځوان نسل هغه استازي دي چې  د نوې تکنالوژۍ په زدکړې سره کولای شي د ښاغلي لېوال پاسنیو خبرو ته د عمل جامه ورواغوندي، دوی کولای شي چې په علمي ډول د پښتنو او پښتو ژبې لهپاره داسې خدمتونه وکړي چې یوکال مخکې یې چا فکر هم نه شوای کولای.

ښاغلی جانداد جهاني او اغاملوک د نوې تکنالوژۍ په زدکړې سره پښتنو او پښتو ژبې ته د خدمت دا وعده ورکړې ده چې پښتو ژبه د نوې تکنالوژۍ په نړۍ کې ځای پرځای کړي او په دې ترتیب د پښتو ویونکو له پاره د پوهې د ترلاسه کولو بېلابېلې دروازې پرانیزي. دا دواړه ځوانان د دې مرام د ترسره کولو له پاره عملاً کار کوي. ما یې چې په «فرهنګي سپړنه» پروګرام کې بحثونه واورېدل، دا هیله راته پیدا شوه چې پښتو ژبه به نوې تکنالوژۍ سره پخلا شي، نوې تکنالوژۍ ته به ورننوزي او داسې کار به پیل شي چې د ټولې نړۍ علمي پرمختګونه به د هر پښتون په مخ کې ایښي وي.

د تېرکال په فبرورۍ میاشت کې د مورنۍ ژبې د ورځې په مناسبت ما د یوې مقالې په ترڅ کې دا خبره کړې وه او اوس یې بیا وایم چې: علمي څېړنو او تجربو ثابته کړې ده چې یوه ژبه هله ژوندۍ پاتې کېدای شي چې عملاً علمي شي، سیاسي شي، اقتصادي شي او ویونکي یې په مینه داسې کار ورته وکړي چې له نوې تکنالوژۍ سره ګام پر ګام د پرمختګ او غني کېدو پر لوري د مزل جوګه شي.

اصلي او د کار خبره دا ده چې په نړۍ کې د تکنالوژۍ نوي بچیان هره ورځ دونیا ته راځي او په چټکۍ سره منډې وهي، د خپلو منډو په ترځ کې د تکنالوژۍ کاروان په ډېرې چټکۍ سره وړاندې او وړاندې پورې وهي او بشریت د پرمختګ نويو پړاونو ته ورننباسي؛ موږ که غواړو چې ژبه مو او د ژبې ویونکي مو ژوندي پاتې شي، نو موږ سره ښايي چې ځان د نوې نړۍ د پرمختګ سره مل کړو او هغه څه وکړو چې د تمدن له دې نوي کاروانه وروسته پاتې نه شو، دا کار هله شونی دی چې په ځانګړو برخو کې پښتانه ځانګړي تعلیمونه کړي وي، د موضوع په ارزښت پوه او د کار کولو لپاره تعلیمي وړتیا ولري.

نوې تکنالوژي وايي چې که څوک غواړي چې مورنۍ ژبه يې ژوندۍ پاتې شي د نوې تکنالوژۍ په ټولو برخو کې فعاله او شامله شي، اړینه ده چې د خپلې مورنۍ ژبې غږونه او متن راټول او موزیلا ته وسپاري، که دا کار پښتانه وکړي، پښتو ژبه به ډیجتلي نړۍ ته ورننوزي. موزیلا کامن وایس د پښتو ژبې د نړیوالېدو، علمي‌کېدو او اقتصادي‌کېدو لوی چانس دی، په دې شرط چې پښتانه ځان بېداره کړي، وښوري او د خپلې ژبې د ژوندۍ پاتې کېدو هڅې ګړندۍ کړي. کار ته اړتیا ده چې پښتو ژبه د مدرنې تکنالوژۍ برخه شي، هلته به وي چې پښتانه به په خپله ژبه د نړۍ له ټولو علمي لاسته‌راوړنو څخه استفاده وکړي.

ښاغلی جاندا جهاني د دې پروسې په باب داسې وايي:

**«موزلا کامن وایس څه شی دی او څه ګټې لري؟**

د موزلا غیر انتفاعي بنسټ یوه هڅه ده چې د نړۍ د ټولو ژوندیو ژبو غږونه او متن را ټولوي دوی دا ډاټا او بانک د نړۍ ټولو نوښتګرو څېړونکو، او کمپنیو ته په وړیا توګه ورکوي ترڅو د نويو موډلونو په روزلو کې ورڅخه استفاده وکړي. دا پروژه پښتو ته دا فرصت ورکوي چې د AI او ډیجیټلي نړۍ برخه شي، کمپیوټر او ماشین په پښتو ژبه پوه شي، پښتو په نورمال شکل ولوستلی شي او غږ په متن او متن په غږ بدل کړلی شي. که پښتو ژبه دې درجې ته رسیږي بیا به موږ د نړۍ ټول علمي معلومات په غریزه بڼه ترلاسه کولی شو، بیا به حتی نالوستي پښتانه د ځیرکو عینکو او یا غوږکیو په مرسته یو فرانسوي او جرمني وګړي سره بې له ستونزې مخامخ خبرې کولی شي، بیا به زموږ کنفرانسونه خبرې او ویډیوګانې په اتومات شکل د نړۍ نورو ژبو ته ترجمه کیږي او چټ بوټونه او سرچ انجنونه به حتی د نالوستو او نابینا پښتنو په خبره هم پوهیږي او مناسب ځواب به ورکوي. دا هڅه د پښتو ژبې په تاریخ کې یواځې یو کوچنی مثبت بدلون نه، بلکې یو بنسټیز بدلون دی. ځکه خو ستاسو ونډه مهمه ده...»

**د جانداد جهاني بیوګرافي:**

ما تراوسه پورې جانداد جهاني نه‌دی لیدلی، د وټیاپ پرمټ مې خبرې ورسره شوې دي، د کارونو او فعالیتونو رپوټونه او لیکنې مې يې په میډیا کې لیدلې دي او په ځانګړې مینې سره مې لوستلې دي. ما د ده بیوګرافي ورنه وغوښته او ده په مینې سره راولېږله. زه يې د دې مقالې د لابشپړېدو په غرض دلته ړدم:

«بیوګرافي او د اوسني کار په اړه لنډ معلومات

نوم مې جانداد جهاني دی، د ژوند ډېره برخه مې په پکتیکا، غزني، پکتیا او کابل کې تېره شوې او دمګړۍ د جرمني په برلین ښار کې اوسم.

له نن څخه ۳۳ کاله د مخه په پکتیکا ولایت یوسف‌خیلو ولسوالي کې زېږېدلی یم.

لومړنی ښوونځی مې هماغلته لوستی او بیا غزني ښار ته تللی یم، په ۲۰۱۲ کال د غزني ښار شامیر رح له لیسې فارغ شوی یم او بیا مې د غزني پوهنتون اقتصاد پوهنځي کالي بانکي برخه کې لیسانس بشپړ کړی دی.

ترفراغت ورسته مې غزني کې د مسلم په نوم خصوصي پوهنتون کې د تدریسي مدیر او استاد دنده ترسره کړې ده.

د دې ترڅنګ مې د غزني پوهنتون اقتصاد پوهنځي او ورسره غزني ښار کې د حسابداري او مدیریت انستیتوت کې رضاکاره تدریس کړی دی.

په ۲۰۱۹ کال کې د پکتیا پوهنتون اقتصاد پوهنځي د کادری بست لپاره یو رقابتي ازموینه کې بریالی شوی یم او تدریس مې کړی دی. یو کال ورسته ۲۰۲۰ کال کې د امریکا بالسټیټ پوهنتون (ball state university) په یو فلوشیپ کې چې له ټول هیواد د لس تنو ځوانو استادانو کې انتخاب شوی وم او د ۳ میاشتو لپاره د هند ته تللی وم او هلته مو د کریکولم جوړوني او میتودولوژي اړوند کار او زده کړه کړې. زموږ د دې لس نفري ټیم د کار نتیجه د اقتصاد پوهنځي لپاره یو معیاري پشنهادي کریکولم و.

ماسټري مې د هند له ګلوبل جنډل پوهنتون څخه د ډاټا تحلیل اړوند ده:
MBA business analytics

چې ډیټا او معلوماتو تحلیل د تجارتونو او څیړنو لپاره په هیواد کې د رسمي مسؤلیت ترڅنګ چې پکتیا پوهنتون کې استادي وه، ما له مختلفو علمي او ټولنیزو بنسټونو سره د رضاکار او افتخاري استاد په حیث کار کړی دی. لکه غزني کې مسلم پوهنتون، د غزني پوهنتون، کابل کې جهان پوهنتون او نورو ټولنیزو او مدني بنسټونو سره.

له هغه وخته تر دې دمه په دا ډول فعالیتونو کې بوخت یم.

په ۲۰۱۹ کال ما او ملګرو په پکتیا کې ددایروي مطالعې یوه لړۍ راپیل کړه چې هره اونۍ ځوانانو د یو کتاب اړوند خبري او بحث درلود دا نوښت ډېر ژر نورو ولایتونو ته هم وغځیده او ان د هیواد تر سقوط ورسته هم لا ځیني غونډې وشوې چې بیا سبوتاژ کړل شو.

خو ورسره موازي هڅه چې د کتابونو په اړه د نقد و نظر او لنډیز انلاین نشر وو، تر نن پوري د کتاب لنډیز په نوم ګروپ کې جریان لري چې په تیرو ٦ کلونو کې تر ۱۵۰۰ د ډیرو کتابونو په اړه مفصل نظرونه، کتني او لنډیزونه نشر شوي دي.

که څه هم اوس جلا وطنی یم، خو زړه او ذهن مې وطن کې دی او تېرو دریوکلونو کې مې همیشه هڅه کړې ځوان قشر، خپلې ژبې او خلکو ته په یوډول کار وکړم.

له ژبې او ادبیاتو سره مې مینه پخوانی ده او د انګلیسي ژبې د تدریس ترڅنګ مې د انګلیسي فارسي او پښتو ترمنځ متقابلې ژباړې کړې دي.

یوه ژباړه مې چې له انګلیسي څخه پښتو او درۍ ته وه، پښتو یې تر اوسه نده چاپ شوې:

https://aelso.org/da/book/an-introduction-to-economic-inequality/

د ساینس فلسفه یوه بله ژباړه وه چې لا نده چاپ شوې.

تیرو دریو کلونو کې مې د جرمني همابولټ پوهنتون او د اتریش علومو اکاډمي سره د پښتو ژبې اړوندو برخو کې د رضاکاره او کارمند په حیث موقتي کار کړی چې محصول یې د دوو پښتو تدریسي کتابونو بیا کتنه او د اړوند غږونو او مکالمو چمتو کول وو چې ښاغلي پروفیسور لوتز

ژيهاک چمتو کړي او يوه ازاده پښتو انګليسي ډکشنري ده، اتريش د علومو اکاډمي له لوري تر کار لاندي ده او ژر به چمتو شي.

د پښتو د ديجيټل کولو او کامن وايس موزلا اړوند له تيرو دوو کلونو په فکر کې وم او له ښاغلي احمد ولي اڅکزي او ښاغلي حنيف‌الرحمن خان سره تماس کې وم، خو د دومره ستر کار د پيل او بريا ته رسولو لپاره مې فرصت لټولو.

خو کله چې هيواد کې د انټرنيټ بنديدلو اوازې ګرمې شولې، فکر مې وکړ حتی د لږکار او ونډې فرصت هم له لاسه تلونکی دی، ځکه مې بې له دقيقې محاسبې کار پيل کړ او يواځې څو ورځو کې ٤٠ ساعته غږونه راټول شول، د انټرنيټ قطع کيدلو ډير خواشينی کړم او د دې خپګان اظهار د دې لامل شول چې د انټرنيټ د بيا خلاصون ورسته ډېر زيات خلک زموږ له کمپاين سره يوځای شي. موږ سل ورځې فعاله کمپاين ترسره کړ او نږدې ده پښتو د غږ په برخه کې د بدايه ژبو کتار کې راشي.

که په ساده ټکو کې يې ووايم کامن وايس د غږونو بانک ده، دا داسي دی لکه روغتون کې چې تاسو د ويني بانک ته چې وينه ورکوئ او هغه بيا د نورو ناروغانو د ژغورلو لپاره کاريږي.

په همدې شکل دلته هرڅوک د هرې ژبې او لهجې ويونکي غږونه ورکوي او له دې غږونو بيا هره کمپنی، پوهنتونونه، څېړنيز مرکزونه او هر هغه څوک چې د غږ اړوند موډلونو، سافټويرونو او سرچ انجن جوړولو کې کار کوي، استفاده کولی شي. تر اوسه د ١٣٠ ژبو لسګونه زره ساعتونه غږ او متن کامن وايس کې راټول شوی دی او د پښتو په برخه کې هم په چټکه کار روان دی.

کامن وايس پروژه د موزلا ټولني لخوا په لاره اچول شوې ده، موزلا يو غير انتفاعي بنسټ لري چې په مرسته يې دا ډول پروژې او محصولات حمايه کوي. د دوی شعار دا دی چې د عامه ګټې شيان د سترو کمپنيو له انحصار څخه راووځي، دوی چوکاټ برابروي چې له عامو خلکو بسپنه راټولوي او عام رضاکاره کار ته هڅوي دوی باور لري دا چاره علمي او ټکنالوژيکي نوښت ګړندی کوي. د غږونو او متنونو پاکه ډاټا ستري کمپنی لکه ګوګل، مايکروسافت،open AI او نور هم لري، خو هغه انحصاري دي او بل چاته يې د کار او نوښت لپاره وړيا نه ورکوي. خو موزلا بيا دا تر CC0 ليسنس لاندې عامه ډومين ته په واک کې ورکوي يعني هيڅوک د دې ډيټاسبت د انحصاري ملکيت دعوه نه‌لري، حتی خپله د موزلا ټولنه يا د موزلا بنسټ.

د پښتو ژبې د ديجيټل کولو لپاره زموږ هڅې دوام لري، اول بايد دا چاره پای ته ورسوو او راتلونکو هغو کارونو اړوند به هم پښتو پالو ته معلومات ورکړو، چې لازمه ده ترسره شي.»

اوس به راشم دې ته چې جانداد جهاني څنګه پښتو ژبه جهاني کوي، ولې يې دې کار ته ملا وتړله؟ د کامن وايس پښتو کمپاين څه‌ډول پيل شو؟

په خپله جانداد جهاني يې د پيل کېدو کيسه داسې کوي:

**«د کامن وايس پښتو کمپاين خاطرې (١)**

کله چې په ٢٠٢٢ کال چټ جي پي ټي بازار ته راغی ماته ډيره بې جوړې ټکنالوژي ښکاره شوه او داچې پښتو ژبه کې يې کار ښه نه وو خپه وم خو حيران نه وم.

ملګرو سره مې مشورې وکړلې او پښتو ژبه کې د بنسټيزو ستونزو په حل مو خبري وکړلې.
خو د ستونزو دقيق تشخيص او حل لارې موندل څه اسانه کيسه نه وه دا يوه نوې ټکنالوژي وه او د سليکان ويلي له کمپيوټر انجينرانو پرته نورو ته يواځې يو جادو ښکاريده، هيڅوک نه پوهيدل واقعآ څنګه کار کوي او پښتو کې څه کول پکار دي چې په AI بوټونو کې د نورو ژبو غوندې کار وکړي.

کلونه تیر شول خو فکر مي پښتو AI کي نښتی وو، پلټني مې کولې او یوه ورځ د غږ په برخه کي د تشي په تشخیص او حل لارې دوارو پوی شوم خو د دومره ستر کار سرته رسول په داسي یو حالت کي چي خپله یو عالم ستونزې لرم او له خپل وطن کلي او قام نه پردی شوی یم راته خورا سخته ښکاریدله، هغوی چي له ما مخکي يې دې کار ته اوږه ورکړې وه اطمینان مې ورکړی وو چي زه به دې کار کې مرسته کوم. هغوی هم نه پوهیدل زما مرسته یعني څه؟ څلور یا پنځه غږونه که پنځه میلیونه غږونه؟ خو ماته خپل پوټنشیل معلوم وو، د خپل نیټورک او اړیکو قدرت او د یو ستراتیژیک عمل تصور او تطبیق.

یو کال بل هم تیر شو خو ما فرصت ونه موند چي کار پیل کړم. خو کله چي وطن کي د انټرنیټ د بندیز له اوازو خبر شوم فکر مي وکړ نور د مناسب وخت انتظار اشتباه ده که څه هم ازمویني مي په مخ کي وې خو پیل مي وکړ څو ورځو کي مو بیساری پرمختګ وکړ هغوی چي له مخکي لګیا وو او میاشتو میاشتو کي يې دوه ساعته غږونه نشوی راټولولی حیران وو ماته یو ملګري وویل "تا کوم منتر او جادو استفاده کړی که څنګه؟ غږونه باید متنوع وې نه دا چي یواځې څو تنه وګمارې او د غږونو شمیر لوړ کړې" ما ورته ویل نه داسې نده وګوره زر تنه لښکر لګیا دی د ګډون والو شمیر په ډشبورډ معلومیږي.

د انټرنیټ له بندیدلو مخکي هم یوه اندازه کار شوی وو ملګري ټول وو او حد اقل زر تنو ته خبر رسیدلی وو چي باید په ګډه د انټرنیټ د شتون شکر په دې ډول ادا کړو.

له هغو ورځو را په دې خوا مو هره ورځ هره شپه په ګډه کار کړی، مشوره مو کړي پلټنه مو کړې ستونزې مو تشخیص کړي او حل لارې مو موندلي دي. ځینو مواردو کي ماسره ملګري موافق هم نه وو خو ما ځان کي دا توان لیده چي د خپلې پریکړي مسوولیت واخلم او د پښتو ژبې د ښه راتلونکي په خاطر د هرڅه او هرچا په وړاندي ودریږم قناعت ورکړم او رضایت يې واخلم.

ټوله کي د پښتو غږیزه خزانه د زرګونه ځوانانو د نوښت او زړورتیا کیسه ده چي د یو مثبت تغیر لپاره يې هر ډول مسوولیت ته ځان ورکړی، واقعا زما په څنګ کي ددومره ډیرو کسانو دریدل د تعجب وړ دی ځکه زه د ټول نرمښت سره ډیر تند خویه هم یم او بل دا چي زما سیاسي دریځ سره خو وطن کي شاید هیڅوک موافق نه وي خو خپلو ملګرو کي هم مخالفین شته خو دا پختګي یو بل ښه زیرې دی.

زه همداسې په ټولنیزو هڅو باور لرم، مثبت تغیر د ټولني له بطن څخه پیلیږي، د نړیوالو قدرتونو، ددولتونو او موسساتو په تمه مه کښینئ ستونزې تشخیص کړئ او د یو ښه سبا لپاره لاس په کار شئ. دا د یو کس مسوولیت ندی د هر فرد فرد دی، او هر کس کولی شي د یو تغیر رهبري وکړي.»

پښتو او پښتنو ته د خدمت په لاره کي د جانداد جهاني بل نوښت دا دی چي تل خپل فعالیت په میډیا کي د خلکو د خبرولو په موخه وړاندې کوي. جهاني د خپل کار موخه په لنډو الفاظو د میډیا په بېلابېلو برخو کي بیانوي. د پښتو څنګه نړیواله شي؟ ترسرلیک لاندې له یوه تلویزیون سره ښاغلي جانداد جهاني مرکه کړې ده، دا لاندې يې نځوړ دی:

«په بنیادي ډول زموږ هڅه د پښتو د غږ او متن له سیستم سره نښلول دي، دا په دې مانا چې: که له دې نه وروسته موږ ماشین ته یا ای آی (AI) ته غږېږو، هغه به زموږ په غږ باندې پوهېږي، که د متن لوستلو ته اړتیا ولرې، اې ای به يې په ښه شکل ولولي که د کوم میټنګ ژبه انګلیسي یا فرانسوي یا کومه بله ژبه وي د متن په بڼه به هغه په پښتوژبه ولیکل شي. په نوې تکنالوژۍ کې نوي اختراعاتو کې هم په پښتو ژبه د ورګډېدو وړتیا ولري. مثلاً د میټا له خوا د نویو جوړو شو عینکې کولای شي چې د دوو سره غږېدونکو اشخاصو ژبې یو بل ته وژباړي، پښتو ژبه به دا وړتیاو ولري چې د هغو خبرې په پښتو ژبه باندې وژباړي.

داسي امکانات هم شته چې ليکل متن په غږيزه بڼه مينهوالو ته وړاندې کړل شي چې د کلونو کلونو د څېړنې پايلې په غږيزه بڼه په پښتو وژباړي او خپلو مخاطبينو ته يې وړاندې کړي او په افغانستان کې د سواد د ټيټې کچې په سبب دې کار ته سخته اړتيا هم شته.

که په دې کار کې موږ يوڅه نورکار هم وکړو، کېدای شي پښتو ژبه نړيوالکېدو ته ورنږدې شي او هيله ده چې په کارسره به پښتوژبه د ځينو ژبو سياله شي...»

جانداد جهاني د کاريګروپ غړو ته د نقدي جايزو ترڅنګ کله کله هغوی ته له درناوي ډک پوستونه ليکل او انلاين کول يې چې نور هم د هغوی د هڅونې سبب کېدل. دا لاندې يې يوه بېلګه ده:

«د کامن وايس-پښتو سفيران!!!
دا هغه ښاغلي او اغلې دي چې هر يو يې سلګونه ساعته وخت د پښتو ژبې خدمت ته ورکړی او هر يو يې تر دې دمه مجموعاً له سل زره څخه زيات غږونه اوريدلي او ثبت کړي دي.

موږ نه يوازې له دوی څخه مننه کوو بلکې دوی خپل سرلاري سفيران او د پښتو غږيزې خزانې معنوي مالکان ګڼو. د دوی خبري نظرونه او پريکړې تر نورو ډيرې ارزښتمندې دي او موږ په خپل کاروان کې دوی ته ځانګړی پروتوکول ورکوو.

د يادولو ده چې راتلونکي کې به نور کسان هم دې ډلې ته ور زيات شي هرڅوک چې سل زره غږيز کليپونه ريکارډ او واوري دا مقام ترلاسه کوي.
د کامن وايس پښتو سفيرانو ته دې مبارک وي.»

د کامن وايس په پروژه کې جانداد جهاني د خپلو همکارانو د کار د تشويق په غرض په بېلابېلو سيمو کې د کارګروپونه جوړ کړل او د هغوی د هڅونې په موخه يې سيالۍ هم پيل کړې او د بريااليو ګروپونو له پاره يې نقدي جايزې هم په نظر کې ونيولې. جهاني د خپل کار د يوې برخې په رپوټ کې داسې ليکلي دي:

«د کامن وايس پښتو - تيرې سيالۍ نقدي جايزې يې ګټونکو ته ورکړل شوې او ګډونوال تشويق شول
د موزيلا کامن وايس پښتو رضا کاره غړو او د جهان روغتيايي علومو انستيتوت په همغږۍ د پښتو ژبې د بډاينې او د موزيلا کامن وايس پښتو سيالۍ د پايلو تر عنوان لاندې يوه شانداره غونډه ترسره کړه.

په دې علمي او فرهنګي غونډه کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړو، د جهان پوهنتون مشرتابه، د جهان روغتيايي علومو انستيتوت ريس، د پوهنتون استادانو، اديبانو، شاعرانو او ګڼ شمېر محصلينو ګډون کړی و. غونډه د قرآن کريم د مبارکو آيتونو په تلاوت پيل شوه.

وروسته ښاغلي حميدالله احمدزی، د موزيلا کامن وايس پښتو د رضا کاره ډلې استازي، د يادې پروژې د اهميت او لاسته راوړنو په اړه ګډونوالو ته تفصيلي وينا وړاندې کړه. ورپسې د جهان روغتيايي علومو انستيتوت ريس، ښاغلي ډاکټر هيواد صافي، د دې نوښت ستاينه وکړه او د پښتو ژبې د بډاينې په برخه کې د رضا کاره غړو نه ستړې کېدونکې هڅې وستايلې. نوموړي محصلين وهڅول چې د خپلې ژبې د پياوړتيا لپاره لا ډېر کار او هڅه وکړي.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړي، څېړنپوه محمد اصف احمدزي، د ټولو رضا کاره غړو له هڅو مننه وکړه او دغه نوښت يې د پښتو ژبې په تاريخ کې يو مهم بدلون وباله. هغه زياته کړه چې تاسې د پښتو راتلونکو نسلونو ته داسې ارزښتمن ميراث پرېږدئ چې نسلونه به پرې وياړي.

وروسته د نومبر مياشتې د سيالۍ د ګټونکو په استازيتوب، د لومړي مقام ګټونکي عبدالرحمن حسينخيل لنډه وينا وکړه او ځوانان يې وهڅول چې د پښتو ژبې د بډاينې لپاره لا ډېرې هڅې وکړي.

د غونډې په پای کې د سیالۍ ګټونکو ته د ژمني سره سم نقدي جايزې او ستاینلیکونه ورکړل شول. همدارنګه هغو کسانو ته چې له سل زرو څخه زیات غږونه یې ثبت کړي او د جملو بیاکتنه یې کړې وه، د موزیلا د سفیر ستاینلیکونه ورکړل شول. هغه کسان چې په دې برخه کې یې غوره مدیریت ترسره کړی و، د "ښه مدیر" په ستاینلیکونو ونازول شول.

په پای کې د موزیلا کامن وایس پښتو برخې رضا کاره غړو د جهان پوهنتون مشرتابه او د جهان روغتیایي علومو انستیتوت څخه مننه وکړه، او غونډه د دعا په ویلو سره پای ته ورسېده.»

د کامن وایس پروژې له پاره د مالي مسایلو په باب باید وویل شي چې کومې پیسې چې دوی د مرستې په ډول ترلاسه کړې دي، د هغوی د لګښت ځرنګوالی یې د درنو هېوادوالو د خبرېدو په موخه له اسنادو سره په انلاین بڼه خپاره کړي دي. دا یې یوه بېلګه ده:

«د کامن وایس پښتو ورستی مالي راپور، لنډیز یې په ځو کرښو کې:

تر دې دمه ټولو رسیدلو پیسو اندازه AFN 574421 پنځه لکه څلور اویا زره او څلور سوه یوویشت.
تر دې دمه ټول تادیه شوي مصارف AFN 514154 پنځه سوه څوارلس زره یوسل او څلورپنځوس
پاتې پیسې:
AFN: 60267
۱. عمومي کتنه
په دغه مالي راپور کې د کامن وایس موزیلا – پښتو پروژې لپاره د ترلاسه شوو مرستو اندازه، د ښځینه کارکوونکو لګښتونه او د نورو اړوندو لګښتونو په اړه لنډ جزیات راغونډ شوي خو د ډیرو جزیاتو او شواهدو لپاره لینکونه شته. تاسو یې خپله کتلی شئ
۲. ټولې مرستې
د ټولو هغو پیسو اندازه، چې موږ ته رسیدلي دي(په افغانیو)
AFN:574421
دا هغه ټولې مرستې دي، چې د پښتو ژبې لپاره یې ژمنه شوې ده؛ ایکسیل پاڼه کې د هغو کسانو له نومونو سره صفر لیکل شوی چې ژمنه یې کړې وه خو پیسې یې ندي لیږلي بنآ هغه ژمني دلته ندي حساب شوي خو د ژمنه کوونکو نومونه او جزیات لیکل شوي ترڅو که راتلونکي کې په ژمنه عمل کوي په اسانه به یې معلومات اپډیټ کیږي.
ټولې مصرف شوې پیسې پنځه لکه او څورلس زره افغانۍ دي چې دقیق مقدار یې 514154 دی
د مصارفو اساسي برخه د میرمنو حق الزحمه چې د ۲۰۲۵ کال د ډسمبر تر پایه کار لپاره ورکړل شوي او مجموعي مبلغ یې 483014
د اکتوبر میاشت کې موږ میرمنو ته 64090 افغانۍ تادیات لرل
د نومبر میاشت کې موږ 138584 افغانۍ تادیات لرل
او ډسمبر میاشت کې موږ 280340 افغانۍ تادیات لرل
د میرمنو د تادیاتو اړوند تاسو ټول جزیات د ایکسل پاڼې په دریمه صفحه کې لیدلی شئ هلته یې اصلي نومونه هم شته خو د تخلصونو مو یواځې لمړی توری لیکلی ترڅو موږ د ډیټا خوندیتوب او شفافیت ترمنځ بلانس ساتلی وي.
[https://docs.google.com/.../1q3Eat.../edit...](https://docs.google.com/.../1q3Eat.../edit...)

ددې علاوه د میرمنو د کار جزیات د کامن وایس په ډشبورډ هم کتلی شئ هلته هم د ټولو میرمنو اصلي نوم ښکاریږي او د کار اندازه یې هم لیدلی شئ.

[https://commonvoice.mozilla.org/en/dashboard/ps/stats](https://commonvoice.mozilla.org/en/dashboard/ps/stats)

د میرمنو د حق الزحمي د تاديي ټول رسیدونه هم فولډرونو کې موجود دي او په لاندي لینک تاسو د هرې میاشتي د هر کس د تادياتو رسیدونه موندلی شئ

[https://drive.google.com/.../16xQt8Il1DmCLWI24OSMRPeASWxK...](https://drive.google.com/.../16xQt8Il1DmCLWI24OSMRPeASWxK...)

نور مصارف: موږ په تیرو دریو میاشتو کې ځیني نور مصارف هم لرل چې مجموعي مقدار یې 45810 افغانی کېږي.
دې کې زیاته برخه یې په اکتوبر او نومبر میاشت کې ټاپ لسو لسو کسانو ته جایزه ورکړل وو چې 18700 افغانی شوې
ددې ترڅنګ جهان پوهنتون کې د ټاپ کسانو ستاینغونده د هغو لپاره د ستاینلیکونو چاپ او بنر .. مصارف وو 5360 افغانی
په نومبر کې موږ د جملو د اپلوډ لپاره هم 6500 افغانۍ لګولي وې ترڅو سل زره جملي ولرو .
او 6320 افغانۍ مو د انټرنیټ د جمع کولو لپاره اداري برخه کې همکارانو او عمومي رضاکارانو ته لیږلي.
همدرانګه د ۱۱۸ ستاینلیکونو ډیزاین وو چې د ډونرانو، کامن وایس سفیرانو او غوره ګډون والو لپاره په نظر کې نیول شوي وو ټول په لاندي لینک موندلی شئ
[https://drive.google.com/.../1PfeT-eiFtg...](https://drive.google.com/.../1PfeT-eiFtg...)
باقي بودیجه
AFN 60267
دا هغه پاتې پیسې دي، چې د پروژې راتلونکو فعالیتونو لپاره په لاس کې دي.
هغه مصارف چې موږ یې په مخ کې لرو:

۱.زموږ ګروپي سیالی چې د پښتو غوره لیګ تر نوم لاندي د ډسمبر په ۱۵ پیل شوي وه د جنوري په ۲٤ پای ته رسیږي او موږ باید دریو ګټونکو ټیمونو ته 500 ډالر ورکوو چې ۳۳۰۰۰ شاخوا افغانی کیږي.

۲. د جنوري میاشتي د میرمنو تادیات: موږ د ډسمبر تر اخیره ۲۰۰ تنه میرمنو ته قراردادونه ورکړي چې د بودجې د کموالي له ویرې مو د جنوري په دریمه د ٦۰ تنو میرمنو قراردادونه تعلیق کړل. دا هغه ٦۰ تنه میرمني وې چې هرې یوې تر ۱۰ زرو ډیري جملې ریکارډ کړې وې. له دې پریکړې زموږ موخه دا وه چې نویو ګمارل شویو میرمنو ته هم چانس ورکړل شي ترڅو له یوې خوا عدالت په نظر کې نیول شوی وي او له بل اړخه د غږ تنوع زیاته شوي وي. همدارنګه موږ ټولې میرمني د غږونو د اوریدلو له برخې هم منع کړلي چې مخکې مو په ساعت ۱ ډالر ورکاوو ځکه د جنوري لپاره موږ سره ډیري کمې پیسې پاته وې او د مکررو تلاشونو سره سره بیا هم ډیره کمه مالي مرسته شوي وه.

۳. موږ د خپلواکي یا طبعي وینا برخه هم د ډسمبر میاشت کې فعاله کړله دلته د مخکې غوندي جملې په خپل غږ کې نه ثبت کیږي بلکې پوښتنې لیکلي شوي او تاسو ورته په خپل زړه مفصل ځواب وایاست. بیا ورسته باید یو دریم کس ستاسو خبرې په متن بدلې (transcribe) کړي او بیا دریم کس لیکل شوی متن ګوري. دا چې زیاتې خپلواکه خبرې ثبت شوي خو ټولې ځوک په متن نه اړوي زموږ تصمیم وو چې ددې برخې لپاره ۱۰۰۰ ډالره بودجه ولرو ترڅو ۱۰۰۰ یا ۲۰۰۰ ساعته غږ په متن بدل کړو خو متأسفانه موجوده بودجه کې دا کار ناشونی دی خو که ورسته مالي مرسته وشي دا کار به هم شونی شي.
دلته د کامن وایس پښتو عمومي فولډر شریکوم ټول جزیات او معلومات موندلی شئ.»




جانداد جهاني د نقدي جایزو ترڅنګه کله کله د کاريګروپ غړو ته داسې له درناوي ډک پوستونه لیکي او انلاین کوي یې چې په لوړو ادبیاتو سره له درناوي ډک پوستونه دي، چې نور هم د هغوی د هڅوني سبب کیږي. دا لاندې یې یوه بېلګه ده:

«د کامن وایس-پښتو سفیران!!!

دا هغه ښاغلي او اغلې دي چې هر یو یې سلګونه ساعته وخت د پښتو ژبي خدمت ته ورکړی او هر یو یې تر دې دمه مجموعاً له سل زره څخه زیات غږونه اوریدلي او ثبت کړي دي.

موږ نه یواځې له دوی څخه مننه کوو بلکې دوی خپل سرلاري سفیران او د پښتو غرېزې خزانې معنوي ملکان ګڼو. ددوی خبري نظرونه او پریکړي تر نورو ډیري ارزښتمندې دي او موږ په خپل کاروان کې دوی ته ځانګړی پروټوکول ورکوو.

د یادولو ده چې راتلونکي کې به نور کسان هم دې ډلې ته ور زیات شي هرڅوک چې سل زره غږیز کلیپونه ریکارډ او واوري دا مقام ترلاسه کوي.

د کامن وایس پښتو سفیرانو ته دې مبارک وي.»

او د دې ترڅنګه یې بریالیو کسانو ته د منني او ستاینې سرتیفېکټونه هم ورکول، دا یې یوه بېلګه ده:




جهاني عمداً په خپل کاريګروپ کې نجونو او مېرمنو ته د کار زمينه د دې له پاره مساعده کړې ده چې هغوی وکولای شي د کورنيو له ښځينه غړو سره وګوري او غږونه يې ثبت کړي.

جانداد جهاني په دې پروژه کې د نجونو او مېرمنو د ګډون او کار په باب د خپلو خاطراتو په دويمه برخه کې داسي ويلي دي:

## د کامن وايس پښتو خاطرې(02)

کله چې مې د مېرمنو د ګډون او د فنډرايزينګ اړوند خپل نظر ځينو ملګرو سره شريک کړ.
ټولو په يو غږ ترې منع کړم ويل يې د پيسو اړوندو معاملو کې بدنامېږې حتی که د يوې يوې افغانۍ حساب هم ورکړې بيا به هم خلک وايي پيسي دې راټولي کړلي. يا دا هڅه انتفاعي ده.

ما ورته ويل زه همدې قرباني ته تيار يم، زه به دوی ته يوې يوې افغانۍ حساب له شواهدو او اسنادو سره ورکړم، زه به تر ټولو دمخه دې صندق ته پيسي ورکړم نو هغه چې سترګي لري او حساب باندي پوهيږي خپله به يې ويني، هغوئ چې نه غواړي پوه شي او خبري وکړي د هغو پروا زه نلرم.

د کامن وايس موزلا اړوند هم ګوګل او چټ بوټونه پوښتلی شي چې انتفاعي ده که غير انتفاعي.
ما ورته ويل که هرڅه پېښيږي زه ورته تيار يم حتی که ۵۰۰۰ ډالر تاوان هم راځي په غاړه يې اخلم خو دا کار سرته رسوم.
د انلاين مرستې لينک کولی شئ د ډسمبر په تاديه کې مرسته وکړئ!!

https://gofund.me/6753bafb5

د مرسته کوونکو جزیات:

https://docs.google.com/.../1eXFhDVwCpY7MJQUDG7zE.../edit...

**جانداد جهاني د نورو د نظرياتو په هنداره کې:**

ښځګه چې پښتو ژبې ته د جانداد جهاني د خدمتونو مسأله په ميډيا کې راښکاره شوه، د خپل عملي کار له پاره يې کمپاين پيل کړ، د خپل ترسره کړي کار ځو بېلګې او پرمختګونه يې د رپوټ په ډول وړاندې کړل؛ نو له دې کار سره سم د ده د هڅونې له پاره په مېډيا کې د هېوادوالو د نظرياتو لړۍ پيل شوه. دلته به يې ځو بېلګې وړاندې کړم:

**زاويه نيوز:**

«يوځو افغان ځوانانو په غرېزه بنه د پښتو د ټولو لهجو او غږونو د ټولولو کار پيل کړی دی.
د دې بهير مخکښ جانداد جهاني له ټولو نارينه او ښځينه لوستونکو څخه هيله لري، چې د پښتو لهجو د ډېټابېس غني کولو لپاره ورسره په دې کار کې همکاري وکړي، ترڅو راتلونکی نسل د دغو هڅو له لارې په پښتو ژبه له کمپيوټر، موبايل او نورو الکترونيکي وسايلو سره خبرې وکړای شي.»

د غږ ثبتولو لېنک:

https://commonvoice.mozilla.org/ps/speak

د ثبت شويو غږونو اورېدل تاييد او رد:

https://commonvoice.mozilla.org/ps/listen

د جملو د بيا کتنې لېنک:

https://commonvoice.mozilla.org/ps/review

د پښتو او نورو ژبو د وضعيت معلومولو او مقايسي لپاره دا لينک دی:

https://commonvoice.mozilla.org/en/languages

يوه جالبه تجربه
د فرهاد داوري فيسبوک:

«د موزيلا غير انتفاعي بنسټ لخوا د عامه ږغ (Common Voice) په نامه يوه پروسه را پيل سوېده، چې د نړۍ ژوندۍ ژبې په ډيجيټل نړۍ کې ثبت کړي او بيا يې لويو لويو شرکتونو او د مصنوعي ځېرکتيا کارونکو کمپنيو ته ورکړي، تر څو په راتلونکو ټيکنالوژيو کې همدا ژوندۍ ژبې وکاريږي. پدې ژبو کې د مخکې د کرُې پر مخ د يوه غرني او وچ هيواد د خلکو ژبه (پښتو) هم وه، څو کلونه په ژونديو ژبو کې لا نه ګڼل کېده، کامن وايس هم پر شکمن و، خو کرار کرار پښتو په ژونديو ژبو کې وشمارل سوه، خو د نړۍ تر پرمختللو ژبو ډېره شاته وه، ځينو پښتنو د کامن وايس پانه خلاصه کړه، د پښتو حالت چې يې وکتی، پر نورو يې ږغ وکړ چې هلئ، پښتو ته کار په کار دی، ږغ او ږوغ شروع سو، کمپاين شروع سو، اکاونټونه جوړ سوه، جملې ليکل، بيا کتل، ثبتول او بيا کتل را پيل سوه، پښتو په لومړيو کې د پارسي او اردو سره په سيالی کې ولوېدل، په څو اوونيو کې تر خپلو سيالانو مخکې سوه، بيا د جرمني، چينايي، هسپانوي او نورو ژبو سره په سيالی کې سوه، د پښتنو اشر پياوړی سو، په څو اوونيو کې تر چينايي، فرانسوي او جرمني ژبو مخکې سولو، کار روان و، د پښتنو مينه او پښتنولي په ډيجيټل نړۍ کې پر جوش او خروش راغله، د پښتو ژبې يو

څو ښباکه مینه کوونکي (د پښتو لېونیان) را پورته سوه، شپه او ورځ یې پر ځان یوه کړه، څه کم درې لکه جملې یې د پښتنې ټولنې او مغزونو څخه راوتلې، تر څلور میلیونه پورې ړغونه ثبت سوه، بالاخره پرون پښتو په کامن وایس کې تر انګلیسي هم مخکي سوه او لومړنۍ ژبه سوه چې ډېر کار ورته سوی دی، اوس نو پښتو په کامن وایس کې د نړۍ په پنځه سوه ژوندیو ژبو کې لومړنۍ ژبه ده.

جالبه خبره داده چې پدې کمپاین او پروسه کې نه د کمونیست او اخواني ټاپې وې، نه د هلمندي او لغماني مسئله وه، نه د ځوان او سپین ږیري، نه د نر او ښځې، بلکي ټوله په یوه خوله او یوه احساس ددې خواري پښتو لپاره اخته وه، نه چا ښکنځل وکړه، نه چا پر چا احسان بار کړ، نه چا کریډیټ وغوښتل، نه د ټامي او وطني مسایل مطرح سوه، چا د کندهار څخه، بل د کونړ، بل له وردګ، بل له فراه، پېښور، کوټې، اسټرالیا، جرمني، امریکا او ټولي نړۍ څخه پښتنو پایڅې راپورته کړې، پښتو یې تر ټولو مخکي کړه، پدې کاروان کې تر اوه زره زیاتو ځوانانو ونډه واخیستل او لا هم روان دي. دا په ډیجیټل زمانه کي زموږ یوه نوې تجربه ده، بله جالبه داده چې د هلمند ځوان به د وردګ تلفظ تائید کړ، د ننګرهار ځوان به د کندهاري تلفظ تائید کړ، خوستي به د لوګري تلفظ تائید کړ، د پښتو لهجې ټولو سره واورېدلې او تائید یې کړې، اوس پښتو یوه پښتو سوه. بله جالبه داده چې پښتو ته هغو ځوانانو کار وکړ چې د پښتو د خدمت پر سر یې نه مډال اخیستی، نه چا پدې نامه پېژندل، نه پر فیسبوکونو د پښتو مدافع و، بلکي هغه ځوانان وه چې سپېره، ساده، خو پښتانه وه، د پښتو ژبې کاروباریانو ستاین غونډې کولې، همدې ځوانانو کار کاوه، د پښتو ژبې نامتو تجارانو به ټیکټاکي ډایلاګونه ویشتل، خو د وطن همدې خوارو ځوانانو چې د ټلیفون د انټرنیټ پیسې یې نه درلودې، شپه او ورځ ناست وه، کار یې کاوه. نو پښتو د پښتنو ده، هغه تجاران چې پر ټولنیزو رسنیو د پښتو د سالارۍ دعوې کوي، هغه پداسي میدانونو کې ورک دي، ځکه پدې خدمت کې څوکۍ نسته، مډال نسته، پیسې نسته، د ارګ پروژې نسته، نو ځکه دوی پدې کې برخه نه اخلي.

نو ځوانانو ستاسو پر همت او تکل دې افرین سي، تاسو وښودل چې خادم او کاروباري توپیر لري، تاسي به ددې ژبې په تاریخي روایتونو کې د اتلانو په نومونو ثبتېږئ.

نوټ: ددې کمپاین مخکښان احمدولي اڅکزی، جانداد جهاني او ځیني نور ملګري دي چې پښتانه یې راوېښ او وهڅول.»

**احمدولي اڅکزی:**

«د **Jandad Jahani** صاحب او دغې پروژې سره مرسته کوونکو ټولو رضاکارانو او د پښتو ژبې د ټولو مینه والو دې مبارک شي.
پښتو مو کامن وایس کې لمړي مقام ته ورسوله!!

د نن ورځې ښه خبر دا دی چې په کامن وایس (common voice) آزاد ډیټا سیټ کې د پښتو ژبې غریزه خزانه تر بلې هرې ژبې بدایه شوه.

پرون ماښام پښتو په کامن وایس کې خپل ورستي رقیب انګلیسي ژبې ته هم ماتې ورکړه او اوس نو تر هرې ژبې زیات غږونه لري.
دا د زرګونه پښتنو د سلو ورځو او شپو د بې خوبیو او زحمتونو نتیجه وه چې درې نیم میلیونه غږونه ثبت او میلیونونه نور یې واورېدل.

دا لاره له سټرياؤو جنجالونو ناهیلیو او ستونزو ډکه وه، موږ وښکنځل شو، موږ وغندل شو په موږ اتهامات پورې شول زموږ قرباني او تعهد سپک وشمیرل شو خو موږ له خپلې ارادې په شاه نشو.

موږ څلوېښت ورځې په کابل کې د یوې غونډې لپاره منډې ترړې وکړې، ترڅو د یو عادي سمینار او غوره ګډون والو د تشویق یو پروګرام ونیسو، ولې د اجازې اخیستلو لپاره مو ورځې او اونۍ ضایع شوې خو موږ بیا هم شاته نشو.

موږ له لندن تر امستردام بیا تر بن، برلین او استانبول په هر سټیج کې ددې عظیم کاروان لپاره غږ جګ کړ زموږ هڅه ځان ښودنه نه وه بلکې د واقعي ملاتړ ترلاسه کول وو؛ زموږ هڅه د ډېرو کسانو ګډون وو چې په ښه شکل د ټولو پښتنو د غږ نمایندګي وکړي خو په ځینو ښاغلو لا دا هم درنده تمامیدله چې ولې موږ ددوی د پانو کمنټونو کې پښتانه د پښتو خدمت ته رابولو.

موږ د لسګونه میرمنو د کار او ګډون د احترام او درناوي په خاطر د هغو د حق الزحمې د پوره کولو لپاره سلګونه پیسه داره پښتنو ته خواست وکړ خو دوی د یو ماښام د ډوډۍ په اندازه پیسې هغو خویندو ته وقف نکړلې، بلکې لا موږ ته یې د ګدایګرو په سترګه وکتل او حتی دا نن ورځ هم څوک د هغو میرمنو حق الزحمې ورکړي ته تیار ندي چې ډسمبر میاشت کې یې کار کړی او شاید جنوري میاشت کې هم کار ته دوام ورکړي.

دا یې د انلاین تادیيي ګوفنډمي لینک دی.

https://gofund.me/ad30b6c0e

زموږ کار به له کاستیو خالي نه وي، ولې ډیر داسې اړخونه یې هم شته چې د کیفیت له اړه زموږ کار په کامن وایس کې تر نورو ډیرو سترو ژبو با کیفیته ثابتوي. چې یو له هغو څخه د میرمنو د غږ متوازن شتون دی. د ورستیو ارقامو له مخکې ۶۰ سلنه غږونه د میرمنو دي دا په دې معنی که راتلونکي کې دا چاره دوام هم کوي او د میرمنو قراردادونه پای ته رسیږي د نارینه رضاکارو له پراخ ګډون ورسته به بیا هم په غږونو کې د جنسیت له اړخه توازن موجود وي. د پښتو غونډي ژبې لپاره په خوب کې هم ددې تصور نه کیده چې دوه میلیونه د میرمنو غږونه دي د مرکزي ولایتونو ترڅنګ کنړ، پکتیکا، زابل، هلمند، فراه، بادغیس، پروان او ان پښور او کویټې څخه را راټول شي خو دا چاره زموږ او تاسو په ګډ فکر او تلاش شوې ده او په ګډه به د میرمنو د مالي حقوقو د تادیې لپاره تر اخیره دریږو.

که څه هم د پښتنو ګډون نظر نفوس او باسواده طبقې ته خورا کم وو او موږ تر دې دمه یواځې ۷۱۵۰ ملګري لرو دا د انګلیسي ژبې د سل زره ګډون والو په نسبت ډیر کم دي خو د ګډون اندازه په پښتو کې ډیره پراخه او نسبتآ متوازنه ده داسې چې هیڅ کس تر ۷۰ زره ډیر غږونه ندي ثبت کړي، میرمنو ته ۵۰ زره غږونه محدودیت وضع شوی او تر ۱۰۰م کس پوره په تدریج سره هر کس له ۵۰ تر ۵ زره غږونه ثبت کړي. زموږ دوه سوه ګډون والو هر کس تر یو ساعت زیات غږونه ثبت کړي او زموږ تمه ده دا شمیر راتلونکې یوه میاشت کې ۵۰۰ کسانو ته ورسوو.

مخکې لار روښانه ده زموږ ستراتیژیک هدف ۵ میلیونه غږونه دي چې په باور سره ویلی شم راتلونکي یوه میاشت کې به پوره شي، زموږ یواځې ۳۴ سلنه غږونه بیا اوریدل شوي خو دا به په ګډه سره د یوې میاشتې په ترڅ کې تر ۵۰ سلنه رسوو دا زموږ ژمنه او تعهد دی او ورسته به د ټول ټبر په همکارۍ د یو کال په جریان کې ۹۰ سلنه ته یې رسیږو. له نن ورسته نارینه وو ته پکار دی خپلو کامن وایس پروفایلونو کې د عمر، جنسیت، او خجنښې(لهجې) تنۍ سمه کړي ترڅو دې ستونزې ته تر یو حده ځواب ویل شوی وي.

موږ به د جملو شمیر هم له ۲۶۵ زرو څخه نیم میلیون ته ورسوو دا زموږ ژمنه ده خو د پښتون ټبر لپاره د راتلونکي ۲۰۲۶ کال موخه باید یو میلیون پاکې جملې وي.

بل د خپلواکې وینا (Spontaneous Speech) برخه مو هم دې میاشت کې فعاله کړه دا د ډیسمبر میاشتې یو له سترو او سختو کارونو څخه وه دلته د هغې بلې عامې برخې غونډې تاسو جملې نه

لولئ، بلکې يوې پوښتنې ته په خپل زړه، په درې ځلور دقيقو کې ځواب ورکوئ، دلته تاسو په خپله محلي لهجه راحته غږيږئ، د خپل کلي لغات، اصطلاحات او ګرامر کاروئ، غږيدل مو کاملا نورماله دي لکه څنګه چې د ملي ځوانان خپل منځ کې غږيږي او بيرته يو دويم کس ستاسو ټول غږ په معياري متن بدلوي.

په اخيره کې له ټولو ملاتړو مننه کوم؛ ددې زرګونه ګډون والو د بې دريغه زحمت برکت وو چې نن ټول پښتانه د وياړ احساس کوي، د لسګونه ملګرو د مدريت، ستراتيژۍ جوړونې تعهد او مشورو برکت وو چې دا عظيم کاروان يې د بريا تر پولو را رسولی. او په ځانګړې توګه د هغو ۵۵ تنه پښتنو ډونرانو برکت وو چې ددوی په پيسو مو ميرمنو ته د اکتوبر تو نومبر حق الزحمه ورکړې او باقي پيسې به هم يې له راټوليدلو ورسته ورکړو.

دلته يې نومونه او جزيات شته:

https://docs.google.com/.../1eXFhDVwCpY7MJQUDG7zE.../edit...

او ټولو هغو کسانو نه مننه کوم چې ددې سترې هڅې ملاتړ يې وکړ، ټولنيزو رسنيو يې ليکل کړې ملاتړي کمنټونه يې کړي، د نورو ګډون يې ستايلی او د کمپاين برخه وه. قطعاً زموږ او تاسو د يو ګډ باور، تلاش او آرمان څخه پرته دا چاره ممکنه نه وه...»

د جانداد جهاني کار ته په کتو سره احمدولي اڅکزي د ده له پاره يونوی لقب ورډالی کړ او داسي يې وليکل:

«د «ډېټا خان» لقب زما لخوا Jandad Jahani ته د کامن وايس پروژې لپاره کار او کامپاين له کبله عطا کړل شو.

ناچيز احمد ولي اڅکزی»

احمدولي اڅکزی چې پښتو ژبې ته کار، زيار او خدمت وياړمنه مخينه لري، د «ديتاخان» لقب له کارولو نه يې داسي ښکاري چې د جانداد کار ورته نه يوازې د قناعت وړ دی، بلکې د نورو پرمختګونو له پاره يې هم هڅوي.

جانداد د منني په دود اڅکزي ته وليکل:

«مننه کور ودان ملت به مې غرق کا.»

بېرته احمدولي داسي ورته وليکل:

«دا لقب د مخکې کار نه بلکه د راتلونکي کار لپاره دی! درڅخه انشالله د کال تر پايه حد اقل يو مليون پاکي خواپاکي جملي غواړو.»

د احمدولي اڅکزي د «زموږ لومړی ژر پوره شوی ارمان» ترسرليک لاندې يو بل مثبت او هيلهبښونکي پيام داسي وړاندې کړ:

«د خپل ولس لپاره زموږ ستاسو نژدې ټول ارمانونه داسي دي، چې زموږ په ژوند يې د پوره کېدو هيله نشو کولای. هره مهمه موضوع مو تر اندازې ډېره اوږده، ډېره لانجمنه، ډېره سترې کوونکې او تقريبا ناهيلي کوونکي شانته وي.

کامن وايس موخيلا حد اقل زما په ژوند کې د خپلو خلکو لپاره لومړی داسي يو ارمان دی چې تر هغه ډېر په چټکۍ پر مخ ولاړ او لا مخ په وړاندې روان دی، لکه چې ما يې اټکل کړی و.

د نړۍ له بيلو برخو څخه پښتانه رضاکاران په دې وتوانېدل چې صرف د يو کال په اوږدو کې نژدې ۵۰۰۰ ساعتونه ږغونه ثبت کړي او تر درې لکه زياتې پښتو جملې په متن کې راغونډې کړي. حال دا چې مخکې کالونو کې دغه پروژه کې صرف يو څو ساعته ږغونه راغونډ شوي ول. د ټولو رضاکارانو او په زياته د Jandad Jahani صاحب يې کور ودان چې د دغې پروژې د بريالئ کولو لپاره يې زحمتونه وګالل. خو زما په فکر دغه ټول زحمتونه په وارزېدل او ښايي په لومړي ځل زموږ انرژي په داسې يو مثبت کار مصرف شوې وي.

دغې پروژې شخصا ماته دا هيله بخښلې ده چې حتمي نه ده چې هغه نسل چې زه هم پکښې راځم، د مخکنيو نسلونو په شان د خپل ولس لپاره خپل ارمانونه د ځان سره ګور ته يوسي. که زموږ دغه ارمان زموږ له توقعاتو ژر او په ښه توګه پوره کېدلای شي، نو زموږ نور ارمانونه هم زموږ په ژوند کې د پوره کېدو امکان لري.

دلته پوښتنه دا ده چې په دغه پروژه کې څه شی د دې لامل شو چې داسې پرمختګ رامنځته شي؟ که موږ همدغه څيز يا شی د خپلو نورو ارمانونو د پوره کولو لپاره وکاروو، نو د هغوی د پوره کېدو شاهدان به هم شو.

ستاسو په فکر هغه کوم شی/څيز دی؟»

د کار سرې جانداد جهاني په کامنت کې داسې وليکل:

«څلورمياشتې په مسلسله توکه د يو شمير ستراتيجيستانو ډيناميک منجمنټ، پلان جوړونه او د هغو تطبيق.
دې کې شک نشته چې پښتانه د خپل سرنوشت د بدلولو بالقوه توان لري خو مسله داده چې څنګه ددې ملي ارمانونو او موجوده پوتنشل ترمنځ عملي پل وتړل شي. څنګه خلک بسيج شي او څنګه دا چاره په ښه او موثره شکل سازماندهي شي.
څنګه او څوک ريسک او مسووليت واخلي.
دا کمپاين به موږ ته ډير څه را زده کړي، يوه ښه تجربه وه.»

احمدولي اڅکزي په ډېرې بزرګوارۍ سره د يوې ناسمې پوهېدنې د مخنيوي لهٔپاره په وخت او په موقع يوپوست وکړ، دا يې متن دی:

«يوه غلطفهمي د کامن وايس په هکله
په پوستونو او تبصرو کې بعضي دوستان د کامن وايس پښتو پروژې سره په ناسمه توګه زما نوم لګوي. خو زه غواړم دا خبره روښانه کړم چې ما په کامن وايس کې هيڅ ونده نه ده لرلې. جانداد جهاني صاحب Jandad Jahani، د هغه ملګرو او په زرونو رضاکارانو د زحمتونو په برکت دا کار ممکن شوی دی. جهاني صاحب ورته د يو منظم پلان او تطبيق له مخې په مياشتو مياشتو زحمتونه وګالل، زما په شمول يې د نورو زياتو د کار ادعا کوونکو دروازې ور وټکولې او په خپل هيواد کې يې مېرمنو ته د بسپنې له لارې راټولو شوو پيسو په مرسته د ږغونو د ثبت لپاره حق الزحمې جاري کړې او لا دا کار ادامه لري. حال دا چې د پيسو په ورکړه کې تر اوسه هيڅ چا داسې لوی کومک ورسره نه دی کړی، لکه چې پکار دی.

د ښاغلي قاسم خان مندوخيل Qasim Khan Mandokhail يې کور ودان چې د رسنيز راپور له لارې يې په لومړي ځل ښاغلی Hanif Khan صاحب په خلکو وپېژندلی. حنيف خان صاحب هغه څوک دی چې په کامن وايس کې يې کار شروع کړی و خو مرستندويان يې نه لرل. د بي بي سي، دويچه وېله، آزادي راډيو او نورو ټولو هغو رسنيو د کارکوونکو يې کور ودان چې د دغې پروژې په تړاو يې مرکې خپرې کړې او خلک يې ورته راجلب کړل. د ګوتو په شمېر رضاکارانو

شمېر اوس زرونو ته رسېدلی او د ګوتو په شمېر ثبت شوو ږغونو حجم اوس زرونو ساعتونو ته پورته شوی دی.

کار لا ادامه لري او انشالله جهاني صاحب او د پروژې نور ټول کم او زيات کار کوونکي به دغه کاروان تر منزله ورسوي، انشالله.

د شمېرو له مخې نژدې ۸۰۰۰ کسانو په دغه پروژه کې ونډه اخيستې ده. زه ډېر خوشاله يم چې زه هم له دغو ۸۰۰۰ کسانو څخه يو يم. البته هغه ځوانان او پيغلې چې له مياشتو راهيسې يې دغه ستر کار ته ملا تړلې ده او شپه او ورځ ورته کار کوي، هغوی بايد په خپل دغه کار وياړي. په دغو کسانو کې داسې هم شته چې په لکونو جملې يې کتلې او دا چې دا کار ځومره سترې کوونکی دی، صرف هغوی يې درک کولای شي. له دې کبله د دغې پروژې هر برخه وال د ستايلو وړ دی. د دغو برخه والو لپاره تر ټولو ښه انعام او ستاينه دا ده چې هغوی که څه چې هر يو جلا جلا په پوستونو او تبصرو کې نه ستايل کيږی، خو د دغه کار ګټه به د هغوی ټول ولس ته رسيږي. فکر نه کوم چې هغوی دې دا کار د نوم يا ستاينې ترلاسه کولو لپاره کړی وي. خو بيا يې هم بايد هيڅکله هېر نکړو او هر وخت يې ذکر وکړو او ورڅخه مننه وکړو. حتی که يې يوه جمله هم کتلې يا ثبت کړې وي او يا يې په دې تړاو پوست خپور کړی او شريک کړی وي.

د خوشالۍ خبره دا ده چې د مومن خان د نکل په شان د ښامار د وژلو ادعا کوونکي ډېر نه دي، که څه چې د نکل برعکس ښامار ته په زرونو کسانو چړې منډلې دي. دا ښيي چې زموږ په نوي نسل کې د شعور او پوخوالي علامې ځرګندې دي او دا چې زموږ نوی نسل کار کول غواړي او نه دا چې د بدنيتيو، ځان ښودنې، ځان مطرح کولو او بخالت فکرونه يې د کار کولو اثر او انرژي له منځه يوسي. دغه او نور کاروانونه صرف په همدغه لاره او دريځ تر منزله رسېدلای شي.

البته دا مهمه خبره ده چې د کامن وايس پښتو پروژه يوه کارزماتيکه او جذابه څهره په مخ کې ولري. د خلکو د راجذبولو، لابې لپاره او همدا شان د اړينو مرستو راغونډولو لپاره دا کار ډېر مهم دی. جانداد جهاني صاحب (ډېټا خان صاحب) چې نه يوازې په صورت ښکلی او ځوان دی، بلکه په هغه څه کې اکاډميکه پوهه هم لري، کوم څه چې يې د پروژې د منجمنټ په ترڅ کې په بريا سره روان کړي دي. کار بايد همداسې ادامه ومومي.

هيله ده چې نه يوازې په دغه پروژه کې، بلکه په شته او راتلونکو نورو ټولو داسو مهمو ټولګټه اساسي پروژو کې موږ د دې شاهدان شو چې زموږ ځوانان او پيغلې د لکونو په شمېر په قطره قطره دريابونه جوړ کړي.»

ښاغلي جانداد جهاني د نورو هغو ښاغلو يادونه هم کوي او د خپل کار په لړ کې يې د هغو د کارونو مؤثريت هم يادکړی دی. ده په دې لړ کې د ښاغلي حنيف‌الرحمن د کارونو يادونه داسې کړې ده:

«له اغلې هيلی اسد څخه مننه چې له ښاغلي حنيف الرحمن سره يې د پښتو ډيجيټل کولو اړوند مرکه کړې ده
ښاغلی حنيف خان وايي چې پښتو کې د غريزه خزانه په کافي اندازه بډايه شوي خو د متن برخه لا هم تر ګاونډيو ژبو شاته پاته يو. دده په وينا که هر کس ويکيپيډيا کې د خپل ځان او خپل کلي اړوند يوه پاڼه وليکي دا اسانه چاره هم د پښتو ژبې يوه ستره ستونزه حل کولی شي.
همدارنګه د ازادې او پراخې ډکشنري موجوديت هم اړتيا ده اوس چې څه قاموسونه ليکل شوي او موجود دي يو يې هم آزاد ندی يعني د چاپ حقوق يې محفوظ دي او هرڅوک ازادانه استفاده نشي ورڅخه کولی. خو حل لاره داده چې ويکسينډ يا ويکيشينري غني کړو.
ښاغلي حنيف خان نورو مسايلو ته هم اشاره کړې ده که چيرته مو په دې خپرونه کې ټولې پوښتنې حل نشوئ بيا له دې ښاغلي سره زما دوه مفصلې مرکې هم وګورئ.

لینکونه یې دلته او کمنټ دواړو کې شته:

له ښاغلي حنیف الرحمن سره د اغلي اسد مرکه:

https://www.facebook.com/share/v/1DvC6f2tRs/?mibextid=wwXIfr

له ښاغلي حنیف الرحمن سره د جانداد جهاني لمړۍ مرکه:

https://youtu.be/gdiQ_oPLqgk?si=x_tYcoUazeMLga_D

له ښاغلي حنیف الرحمن سره د جانداد جهاني دویمه مرکه:

https://youtu.be/sGVhnar9jNU?si=YRXYvlGPaB3AUJdo

نور هغه کسان چې د پښتو او ډیجیټل نړۍ ترمنځ د واټن را کمولو کې لګیا دي باید را پیدا کړو او خبري یې واورو.

که تاسو څوک پیژنی را معرفي یې کړئ»

د جانداد جهاني د یوه بل پیام په ترڅ کې د ده او د ګروپ د کارونو د پایلي په باب داسې راغلي دي:

«پښتو ژبه مخ په وړاندې!!!

له څلور میاشتو شپه او ورځ هڅو ورسته د پښتنو ځوانانو/میرمنو اته زره کسیز کاروان د پښتو غړیزه خزانه تر بل هر وخت او تر بلې هرې ژبې ډیره بدایه کړله.

نن ورځ کامن وایس کې پښتو ژبه یوازې د غږونه د تعداد له مخې تر ټولو مخکې نده، بلکې د کټل شویو او تایید شویو غږونو د مقدار له مخې هم تر ټولو ژبو مخکې ده.

د پښتو ژبې له ۵۳۱۶ ساعتونو څخه ۵۷ سلنه یې تایید شوي چې ۳۰۳۰ ساعته کیږي خو د نورو ژبو: مثلا انګلیسي له ۳۸۰۲ ساعتونو څخه یې ۷۲% سلنه تایید شوي چې ۲۷۳۷ ساعتونه کیږي.

زموږ د کاروان لپاره د جنوري میاشت هم د برکت او تغیر میاشت وه موږ د غوره لیک سیالیو او لسګونه ګمارل شویو میرمنو په مټ هم له یو اړخه د غږونو تنوع او مقدار خورا لوړ کړ او له بلې خوا مو د غږونو د بیا کتنې او تایید سلنه د پام وړ لوړه کړله...»

زما له نظره د پکتیا پوهنتون پخوانی استاد جانداد جهاني د نوي نسل د روزلو داسې پلوي دی چې عملاً کار ورته کوي او د نظر په برخه کې داسې مخکښ دی چې ټل د خلکو، هېواد او نوي نسل د راتلونکو له پاره فکر او کار کوي. له «شیشه‌میډیا» سره په یوه انټریو کې ښاغلی جهاني د دې په باب غړیري چې «په افغانستان کې زدکړې او د کاري فرصتونو لرلید» څنګه دی.

ــ په افغانستان کې د عصريعلومو تاریخچه،

ــ په وروستیو شلو کلونو په تېره په وروستیو ۳کلونو کې په تعلیمي برخه کوم بدلونه راغلي دي،

ــ د تعلیم پر اقتصادي برخه باندې خبرې،

ــ د تعلیمي نصاب نړیوال ستندردونه،

ــ د افغانستان په تعلیمي سیستم نیمګړتیاوې او حللارې،

https://www.youtube.com/watch?v=7pSzoeE7iyA

**«پنځم نسل - په افغانستان کې د زده کړو او دندو لرلید - استاد جانداد جهاني سره»**

https://www.youtube.com/watch?v=7pSzoeE7iyA

Sheesha Media

**«ښیینه یو ډیجیتل او کڼ رسنیز بنسټ دی، چې باور لري افغانستان د هرې بلې انساني ټولنې په شان د بدلون ظرفیت لريِ، خو دغه بدلون د افغانستان د ښځو په تړاو زموږ په لیدلوري پورې اړه لري»**

د پښتو ژبې د ډیجتلایزیشن په برخه کې نور څه کارونه باید ترسره شی؟ جانداد جهاني داسي پلان لري:

«د استاد رفیع او د علومو اکاډمي د هغه وخت د غړو دې کور ودان وي، چې دې حیاتي کار کې یې ښاغلي اخکزي صیب سره مرسته کړې ده.

البته د پښتو ډیجیټل کولو د وخت له ضرورتونو سره عیارول دوامداره کار او همکاري غواړي. د پښتو له غړیزې خزانې ورسته درې نور بنسټیز کارونه مخکې پراته دي.

۱. د ویکسینډ(Wiktionary) غني کول؛ موږ باید د پښتو ژبې ټول موجود قاموسونه د تشریحي او لهجوي هغو په شمول ویکسینډ کې مدغم کړو او حتی محلي لغاتونه هم هلته له پوره تشریح سره ولیکو دا کار هم په اثر کیدونکی دی خو له علومو اکاډمي باید د قاموسونو اجازه واخستل شي.

۲. د پښتو ویکیپیډیا غني کول؛ فعلا ۲۵ زره شاوخوا مقالي لري خو دا باید سل زرو ته ورسوو، ویکیپیډیا یواځې معلومات ندي دا محتوايی ارزښت لري موازي متنونه د ژباړي او مصنوعي ځیرکتیا کارول په متن کې ښه کوي. په دې کې هم باید د آریانا دایره المعارف چې د علومو اکادمي ملکیت دی مدغم شي.

۳. د پښتو متن یو ستر بانک یا کورپس؛ د یو تړون او باور له مخې باید ټول انلاین موجود pdf کتابونه او ورسره د ټولو انتشاراتو او خپرندویه ټولنو ټول اثار ټول مونوګرافونه سمینارونه او هرڅه راټول کړو، تجزیه یې کړو او د مشین د لوست وړ یې کړو او په یو انلاین ډیټاسیټ کې یی کیږدو، بیا بیرته هغه کاپي له منځه یوسو. دا محتوا څوک د pdf په شکل نشي استفاده کولی نه یې چاپولی شي فقط د مشین روزلو لپاره کارول کیدی شي.

دا د نویو ځوانانو او مشرانو استادانو او څیرونکو لپاره د ګډ کار او نوښت یوه ساده ایډیا ده. هیله ده پښتوپاله یې په ګډه ترسره کړلی شي.»

جانداد جهاني له خپل پلان کړي کار نه راضي او خوشحاله ښکاري او د ټولې پروژې رپوټ په دې ډول وړاندې کوي:

« د پښتو غړیزې خزاني کیسه چیرته ورسیدله؟

د ثبت شویو غږونو اندازه ۴۹۲۸ ساعتونو ته ورسیده. دا دومره غږونه دي چې دا نن ورځ یې چالان کړو ۲۰۵ ورځې به غږیږي یعني تر شپږو میاشتو به هیڅ ختم نشي. موږ ددې کمپاین ستراتیژیک هدف چې ۵۰۰۰ ساعته وو خورا نږدې شوي یو دا د پښتو ژبې د سرچینو لپاره یوه د بدلون نقطه ده. د غږ په برخه کې پښتو ته اوس د کمو سرچینو لرونکې ژبه نشو ویلی.

زموږ د کاروان د ګډون والو تعداد هم ورځ تر بلې زیاتیږي او دا دی ۷۸۰۰ نفرو ته رسیدلی که چیرته همدا کسان ورو ورو نور خبر کړي او د هغو نویو کسانو د غږونو نمونې هم ولرو زموږ ډیټاسیټ به لا ډیره تنوع پیدا کړي او د کمیت تر څنګ به کیفیت هم لا ښه شي. که څه هم ۷۸۰۰

کسان هم کم ندي خو د زرګونو ساعتونو غږونو د اوريدلو لپاره د زرګونو کسانو فعاله ګډون ته اړتيا ده.

د جملو برخه هم تر پخوا ښه شوي فعلا ۳۰۰ زره تاييد شوي جملي لرو که څه هم د ځينو کيفيت ښه ندی خو دا ۳۰ کتابه متن دی ددومره متن برابرول اپلوډ او تاييد او ريکارډ يوعالم کار دی چي له نېکه مرغه ترسره شوی. د کاروان ملګري هوډ لري تر نيم ميليون پښتو جملې کامن وايس پښتو ته ور زياتي کړي.

د تاييد شويو غږونو سلنه هم ٤٦% ته رسيږي. دا په دې معني چې د ټولو ثبت شويو غږونو ٤٦سلنه اوريدل شوي چې ۲۲٦٧ ساعته کيږي. په ورته وخت کې ۲٦٦۱ ساعتونه غږونه لا پاتي دي چې بايد واوريدل شي. او دا هر غږ بايد دوه کسان واوري او تاييد يې کړي ترڅو تاييد شي که يو کس يې تاييد او دويم يې رد کړي بيا دريم کس ته ځي دا په دې معني چې موږ شاوخوا ٦۰۰۰ ساعته اوريدلو ته اړتيا لرو چې د اوسني ثبت شوي غږونه Validation Progress مو سل سلنې ته لوړ شي.
البته حتمی نده چي سل سلنه دي شي. فقط هرڅومره ډير چې موږ واورو هماغومره مو ډير غږونه تر ورستی ازموينه هم تيريږي او د کارولو وړ ګرځي نو ځکه له تاسو تمه ده په دې ورستی مرحله کې مرسته وکړئ او غږونه واورئ.

لينک يې دا دی:

https://commonvoice.mozilla.org/ps/listen

بله مهمه برخه چې موږ ورباندي لګيا يو هغه کامن وايس کې د طبعي وينا/ خپلواکه وينا يا Spontaneous Speech برخه ده. دلته موږ د معمول غونډي متن او جملې له مخې نه لولو ځکه لوستل او عامي عادي او طبعي خبري فرق لري موږ غواړو د يو عادي پښتون طبعي غږ ماشين ته ور وپيژنو نو ددې لپاره موږ شاوخوا سل عمومي ازادې او جذابې پوښتني جوړې کړي دي مثلا " د افغانستان د پرمختګ لپاره څه کول پکار دي او که واک له تاسره وي کوم کارونه به وکړې" دې ډول پوښتنو ته هرڅوک په خپل زړه ځواب ورکوي کولی شي يو، دوه الی پنځو دقيقو پوري وغږيږي او بيا موږ راځو ددې کس خبري په معياري پښتو باندي ليکو يعني ترانسکرايب کوو يې او په دې شکل موږ د پښتنو د طبعي خبرو او لهجو ښه خونديکوو او ماشين ته يې ورپيژنو. دا برخه موږ په محدود او ازمايښتي شکل پيل کړې ده يواځې هغه کسان چې په ښه کيفيت غږونه ثبت کولی شي هغو سره يې لينکونه شريکوو خو ورو وروو به دا چاره هم پراخه شي.

بس دعاګاني مو پکار دي.»

د جانداد جهاني او د ده د ګروپ کار ته په کتو سره ما ته دا هيله پيدا شوې ده چې اوس پښتانه د کار په پيل کې نه، بلکې د کار په متن کې دي او که په همدې جديت سره يې پرمخ بوزي، نو لرې نه ده چې پښتو ژبه به د نوې تکنالوژۍ کليوالـه شي او هر پښتون به د نړۍ ټولو علمي پرمختګونو ته لاسرسی ولري او د هر پښتانه ترکور، کلي او وطن پورې به د علم رڼا ورسيږي.

د همدېورځې په هيله!

**ټول هغه کسان (اغلې/ ښاغلي) چې په دې پروژه کې کار کوي، زما لهپاره اتلان دي.**

(آصف بهاند)

پای

**زموږ انګليسي ويبپانه:**

**[Donate Here]**